SHARIAT DAILY
شریعت
ورځپاڼه
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان
شپږم کال ۶۸ ګڼه پرله پسې (۴۴۸) یکشنبه د ۱۴۲۲ هـ ق کال دجمادی الثاني (۲۸)
د ۱۳۸۰ هـ ش کال دسنبلې (۲۵) د ۲۰۰۱ میلادي کال د سپتمبر (۱۶)

الهی فرمان

ترجمه : تاونه لېدل چې ستارب په عادیانو باندې څه وکړل (دخپل ډېر طاقت سره سره یې هلاک کړل)

په هیواد کې دبهرنیانو په اړه دبهرنیو چارووزارت اعلامیه

کابل -باختر:
دنړۍ په ټولو قضایاوو کې دافغانستان داسلامي امارت دریځونه له ټولو غوره نړیوالو معیارونو سره سم تیول کیږي.
په دې وروستیوکې په خواشینې سره یوځل بیا داسامه بن لادن نوم دامریکې دمتحده ایالاتو او اروپا په خپرندویه وسایلو کې په خورا مبالغې سره یادیږي ترڅودامریکې استخباراتي شبکې تروخت ورااندې خبرونه اومعلومات خپاره کړي .
په دا راوروستنۍ پېښه کې چې دامریکې په متحده ایالاتو کې وشوه زیانه مبالغه هم دهمدې موخې لپاره په سیستماتیک ډول پرته له کوم باوري پاخه سنداو یا پلټنې څخه دخپرندویه سرچینو له لارې کیږي چې مخ په زیاتیدونکې توګه دنړۍ دمسلمانانو په تیره بیا مظلومو افغانانو دخفګان او اندیښنو اسباب برابروي.
موږ په دې باور یوچې دومره لړۍ واړې کې او په هغو وسایلو چې دترهګرۍ دغه عمل ترسره شوی
٤مخ

دامریکا داحتمالي بریدیه اړه دامارت دمقام اعلامیه

کابل باختر:
ـــــــ ره له دې چې دافغانستان اسلامي امارت خو بیا هم دنیویارک او خپل رغنده او پرحقیقت ولاړ مثبت موقف روښانه کړی دی واشنګټن دتروریستي پیښو په هکله دځینو امریکائي
٤مخ

د امریکا د احتمالي یرغل په وړاندې :

د وروستي پرېکړې لپاره علماء را وغوښتل شول

د اسلامي امارت دمقام لخوا په صادره شوی یوه اعلامیه کې د هیواد ټول جید علماء او پوهان را غوښتل شوی دی .دغې اعلامیې ته ستاسو پام را اړوو !
د افغانستان په اسلامي مقدسه خاوره باندې د امریکا د احتمالي تجاوز په اړه د هیواد جید علماء کرام دې د شرعي تصمیم په غرض کابل ته تشریف
٤مخ

د مخابراتو وزیر :

د ډیجیټل ټیلفون لرونکې دضمانت په ورکولو کولای شي له بهر سره مستقیم تماس ونیسي

کابل – باختر :
د کابل په ښار کې د ډیجیټل ټیلفون د شبکې د پراختیا او د تیمه اتومات ټیلفون د شبکې د ترمیمولو په خاطر یو سلو دوه دیرش زره متره کیبل کابل ته را ورسید .
٤مخ

امریکا فروریخت

«آب را نادیده موزه را از پا بیرون کشیدن غلط است.»

از اندیشه های هموطنان ما در کابل ! حادثه یازدهم سپتامبر شهر نیویارک و التیماتوم پیمان ناتو در قبال حمله نظامی بالای افغانستان از طی چند روز بدینسو ذهنیت های بسیاری از افغانان را در داخل وخارج از کشور متوجه خود ساخته ،همه به این می اندیشند که لحظه.
ص٤

ایټالوي ورځپاڼه لیکونکې :

د نیویارک او واشنګټن په پېښوکې د امریکا استخبارات لاس لري

روم- باختر:
یوه مشهور ایټالوي ورځپاڼه لیکونکې میکلي سنترو د امریکا د جاسوسي په سازمان یا سي .آی .ای باندې په
٤مخ

دبست تصدي دپوهې تولو لوکاریېل کیږي

کابل - باختر:
دهیلمند دبست تصدي له کروند ګروڅخه دپوهې دراټولو کمپاین درجب المرجب دمیاشتې په وروستیو ورځو کې پیل کوي.
دهیلمند ولایت دبست تصدي دچارو اکو په هغې غونډه کې چې د دغې تصدي دمرستیال محترم ملابهاالدین
٤مخ

آب وبرق زون شمالغرب کشور به بازسازي ضرورت دارد

قرآن مجید : «بخورید وبنوشید و اسراف مکنید سورة الاعراف – و آفریدیم از آب هر چیز زنده را . سوره انبیا . »
اول – آب : آب رود خانه هاي زون شمالغرب که یکي از شاخه هاي کلان هندوکش مي باشد سرچشمه میگیرد و دریاهاي هریرود ، کال ، کوګان ، فراه رود ومرغاب را سیراب میکند – شاخه هاي سفید کوه و سیاه کوه نیز در مسیر این رود خانه ها قرار دارد و در ازدیاد آب رود خانه ها شریک میشوند ولي متاسفانه اب به ریګستان هاي ایران وخاک ترکمنستان مي ریزد .
علت آن عدم استفاده منظم درسطح زون مي باشد .

د ختیځ زون دکانو او صنایعو رئیس الحاج ګل عمرخان میاخیل له شریعت سره په مرکه کي وویل :

دروان کال په لومړۍ ربع کې عواید(۶۴۳۰۶۴۶۶ ۱۹۱۹۱)افغانیو ته رسیږي

ننګرهار – شریعت :
افغانستان یو غرني هیواد دي او په تاریخي اثارو او قیمتي کانو کي نړیوال نوم لري د کلونو کلونو جګړو زموږ د ګران هیواد لرغوني اثار او قیمتي کانې څه په جګړو کې له منځه لاړل او څه بې د وخت و کسانو لوټ کړل او په بهرنیو هیوادونو بې وپلورل . ملي شتمني بابد په ملي بانکونو کې وساتل شي او دملت په ګټه او دهیواد د رغوني لپاره تري کار واخیستل شي په تاسف سره بابدو وایوچې داسې ونه شول
٢مخ

غم آباد
٣مخ
دافغان بچی

اقتدارو اقتصاد امریکا چگونه فلج شد

بنابر برخي از ګزارش هاي ارائه شده ، زندګي امنیت و آرامش در شهر هاي نیویارک و واشنګټن فلج شده است مراکز تجارت جهاني و کاخ پنتاګون در کام حادثه یې بزرګي فرو رفته ، در کابوس عظیمی امریکا غرق است . مراکز تجارت سمبول اقتصاد و توانمندي و پنتاګون مظهر قدرت امریکائیان محسوب مي شد امریکائیان هیچ ګاهي به ژرفناي چنین فاجعه بزرګ نمي اندیشیدند ، وحتي سناریو سازان هالیود هم در تخیلات خود موفق به شناخت و ردیابي چنین تصوراتي نه شده اند ، سازمان استخباراتي امریکا سالیانه بطور رسمي ده ملیارد دالر امریکایي را منحیث هزینه دفاع و حمایت از امنیت ملي در امریکا از بودجه دولت به خود اختصاص میداد رونالد رام وزیر دفاع امریکا ستراتیژي دفاع موشکهاي قاره پیما را در رؤس و دستور کار خود قرار داده بود .
ص٢

عراق هم خپل د ریځ څرګند کړ

بهرني خبري سرچېنې :
د عراق ولس مشر صدام حسین له امریکا او نورو لویدیزو هیوادونو څخه غوښتنه کړیده چي په غچ اخیستلو کې دې د یوځي عمل څخه کار نه اخلي .
په یوه پرانیستي لیک کې ولس مشر دمحتاطه ځواب غوښتنه وکړه او وایې چې لویدیز پخوا هم له زور څخه کاراخیستې ژ او بریالي نشو
١مخ

دآلمان دلفت هانزا شرکت الوتنې پیل شوی

برلین – باختر:
دامریکا متحده ایالاتو دالمان دلفت هانزا شرکت دالوتکې الوتنې پرون له سره پیل شوی.
ددغه شرکت یو د ویندوی پرون د المان په پایتخت برلین کې خبریالانوته وویل چې دامریکا فضایي حریم بیا دبهرنیو الوتکو دالوتنو پرمخ پرانستل شویدی.
دبي بي سي راډیو هم
٤ص

سرمقاله

دلوی او بښونکي خدا «ج» په نامه

بهرنی ګواښونه او زموږ مسئولیتونه

دامریکا اوسني او پخواني حکومت له خپلو خلکو سره دغه خیانت کړیدی چې خپل واړه اولوی دښمنان یې ټول له خپلو هیوادوالو څخه پټ کړل او بوازې مهاجر اسامه یې په ګوته کړاو خپل ټول دښمنان یې دغه کار دامریکې د دواړو اوسني او پخواني حکومتونو غلطه پالیسي او په بل عبارت یې له خپل ملت سره خیانت بولی . له دې امله دامریکې داستخباراتو اداره سي ،ای ،ای ،هم په غفلت اخته شوه او دامریکا دیولو دښمنانو تخریبي کړه وړو یې له پامه وغورځول په ډېرو تنخاګانو یې خپلي چرچې او مزې کولی شرابونه یې وهل چې خیره دغو اوسنیو پېښو ته راورسیده .
که دامریکې دحکومت او استخباراتو یې کفایتي نه وای نو څرنګه یې دښمنانو کولی شول چې په دومره لوی شمیر کې چې ددوی په وینا له پنځوسو نه هم زیات کسان اړکل شویدی دامریکې دسویر پاور خاورې ته ننباسي او دغسي درونډ ګوزار اوروکړي .
یقیناً دغه دامریکې د حکومت د غلطي پالیسي پایله ده . د تعجب او حیرانتیا خبره خو لا داده
٢مخ

دنوي ستورې کشفول

دناسا پوهان دیوه داسې ستورې په کشفولو باندې بریالي شوي دي چې په هغه کې اوبه شته او دپنځه ملیونو نوري کلونو په واټن له ځمکې لرې دي .
په دې ستورې کې دکنګلې ستري ټوټې شته چې دویلي کیدو په حال کې دي پوهان عقیده لري په

د زړه دعملیات په برخه کې نوی پرمختګ

نړیوالي خبري منابع:
دوسالورګ په پوهنتون کې الماني جراحان په دې بریالي شول چې دیو شپېرڅلوېښت کلن سړي زړه
٤مخ

دروسي او جاپان سمندري ګډ تمرینونه پیل شول

توکیو–باختر:
دجاپان اوروسیې دسمندري ځواکونو ګډتمرینونه پرون دجاپان په اوبو کې پیل شول.
په دغو تمرینونو کې دجاپان اوروسیې څوجنګي بېړیو او الوتکو ګډون کړیدی.
دروسیې یوې
٤مخ

په افریقا کې دسولې ساتني پوځونو دماموریت دوره اوږده شوه

نیویارک- باختر:
دملګرو ملتو دسازمان دامنیت شورا تیره شپه درایوپه اتفاق دافریقا په ختیځ کې دملګرو ملتو دسازمان دسولې ساتني دپوځونو دماموریت موده
٤مخ

له تیرودوو لسیزو راهیسې افغانان دنړیوال تروریزم ښکاردي

شـــــریعت

دتاسیس کال :۱۳۷۴ هـ ش

:دلیکوال هیئت ترنظرلاندی

مسؤول مدیر: مولوی اسدالله «حیدری»

مـــرستیال: مـلامحمد ابراهیم «نبیل»

دیوی گڼې بیه:په هیوادکی(۱۰۰۰)افغانی په پاکستان کی (۳)کلداری

تیلفون :۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات:۶۲۸۵۹

پست بکس : (٤٧١)کابل افغانستان

جاری حساب : ٤٠۳۸۵ دافغانستان بانك مرکز

کمپوز: احمدجاوید «فقیری» چاپ : امارتی مطبعه

د سر مقالی پاتی برخه

چي دامریکې حکومت لا اوس هم خپل بې شمیره غټ غټ دښمنان یا تشخیص کړي نه دي او یا قصداً او عمداً سترگې وربانندې پټوي او بوخل بیا اسامه په دغه کارې او پوروري گڼي او د ده له امله د افغانستان اسلامي امارت ته هم گواښونه کوي که د سترگو پټول نه وي نو بیا څنگه دومره پیچلي او دراندہ عملیات په یو داسې کس پورې تړي چې د تړي مبصرین او کارپوهان يې په اتفاق سره د ده له وس څخه وتلي او ناشوني کاربولي او فکر کيږي چې د امریکې د یوه دښمن یا څو دښمنو حکومتونو مشترک پلان به وي . که امریکه په دنیا کې دښمنان نه لري نو بیا هغه دفاعي دال چې تر یوال بې ور سره نه مني دڅه لپاره جوړوي او دڅه لپاره يې دنا آرامه حکومتونو لست جوړ کړېدی . اوس په دغې خبره ټوله نړۍ پوهيږي چې په اسامه باندې داسې نا معقول تور لگول د عقل او شواهدو تقاضا او غوښتنه نه ده بلکي له اسلام سره د دښمنۍ له امله د افغانستان د اسلامي امارت لپاره پلمې جوړول دي لکه چي جناب عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی خپل ملت ته په خطاب کې وفرمایل : تاسي ټول پوهيږئ چې د امریکې دغه گواښونه د اسامه له امله نه بلکې له اسلام سره د دښمنۍ له امله دي . هرڅوک پوهيږي چې په امریکه کې دومره لويه تنظیم شوې پېښه او تخریب د اسامه غوندې یو بې سره او سامانه مهاجر کارندي څکه چې اسامه دومره پیلوټان له کومه کول نه څو اسامه او نه د افغانستان اسلامي امارت د پیلوټانو لپاره د روزنې بندوبست لري او بیا اسامه چې د اطلاعاتو ټول وسایل ورڅخه اخیستل شويدي په دومره لري واټن کې چې دلته شپه او هلته ورځ وي څرنگه وکولی شول چې دغه پیچلي پلان اداره کړي .

دا یوازې پلمې دي او بهانې زما په الله تعالی قسم دی که اسامه دا اوس ور وسپارئ نو بیا به بله پلمه جوړوي او بیا بله .

تاسي پام وکړئ چي انگریزانو زموږ پر هیواد دری خله تیری وکړ هلته اسامه چیرې ؤ . بیا چي شوروي په افغانستان تیری وکړ هلته اسامه چیرې ؤ .

دلته د پلمو او بهانو خبرې دي امریکه دریم سوپر پاور دی چي زموږ په هیواد د برید گواښونه کوي زموږ توکل په الله تعالی دی که الله تعالی وغواړي نو امریکه به هم داسې وشرمول لکه انگریزان او شوروي چې شرمنده او ورک شول .

زموږ مسلمان او مجاهد هیوادوال باید چي وارخطا نه شي په الله تعالی توکل وکړي او یو ځل بیا د لوی جهاد لپاره کلکه ملا وتړي .

ربنا علیک توکلنا و الیک انبنا و الیک المصیر .

د روان کال په لومړي ربع . . .

او په دغې ملي شتمني دوي دخپلو فامیلونو لپاره په بهر کې کورونه او سرایونه واخیستل او خپل ژوند يې پرې برابر کړ څرنگه چې کانونه زموږ دهیواد قیمتي ذخیري دي نو په دي اساس په اوس وخت کې يې را ایستلو ته ډیر ضرورت لیدل کيږي. په همدي اساس دافغانستان داسلامي امارت له لزوم دید سره سم دختیځ زون دکانو او صنایعو ریاست دا هلي ځلي شروع کړي. او همدا اوس په دي زون کي په شپاړسو کانو باندي کار روان دي چي داستخراج چاري يې دفني او مسلکي انجنیرانو لخوا تنظیميږي. د ۱۴۲۲ هـ.ق کال په سر کي يې عواید ۹۱۹۱۴۳۰۴۰۶۴ افغانیو ته رسيږي . دغه کانونه عبارت دي له : مرمر ، سنگ چونه ، گچ ، شاه مقصود ،فلوراید دوبرو سکاره ، مالگه ، وسپنه ،او داسي نور . . .

محترم میاخیل زیاته کړه: دختیځ زون دکانو او صنایعو ریاست په ۱۴۲۲ هـ .ق کال کي دکنړ او لغمان په ولایتونو کي خپلي نماینده گي فعالي کړي دي . دغه راز دصنعتي پارک ساحه مو هم نقطه گذاري کړي ده او اوس دري څلویښت فعالي فابریکي لري چي مختلف مصنوعات تولید وي او هیوادوالو ته يې په ټیټه بیه وړاندي کوي .

په پاي کي الحاج گل عمر خان «میاخیل» داسي وویل : موږ په پام کي لرو چي دلویو صنعتي فابریکو دجوړولو لپاره دخپلو ملي سوداگرو توجه را جلب کړو چي له هغي جملي څخه داسلامي امارت داقتصادي مرستیال په خاصي پاملرني سره دجلال آباد په ښار کي دجاوید افغان دتریشرو فابریکه ده چي په کال کي یو سل او پنځوس ترشیرونه تولید وي او هیواد والو ته يې په ټیټه بیه وړاندي کوي .

همدارنگه دسباوون افغان فابریکه دهر قسم موټرو پرزي جوړوي او پدي سره دهیوادوالو ستونزي په ډیره اسانه توگه حل کيږي . په دي پاي نه وي چي دنوموړو فابریکو تولیدات له بهرنیو هیوادو سره په سیالي کي روان دي .

حمید الله «عالي»

اقتدار و اقتصاد امریکا چگونه . . .

محراق توجه و بیشترینه امکانات خود را در راه دفاع و نوسازی قوای هوایی وبحری مبذول داشته بودند. به جریان صلح و امنیت در اسیا، اروپا و افریقا می اندیشیدند ،اما هیچ گاهی به این فکر نبودند که انفجار بزرگی ، اقتصاد اقتدار و تفکر امریکا را روزی می لرزاند ، و امریکا وحشت زده میشود .

این همه وحشت و اضطراب زمانی بوجود آمد که بتاریخ ۱۱ سپتا مبرساعت نو ونیم بجه بوقت امریکا چهار فروند هوا پیمای یک شرکت توسط اشخاص نامعلوم ربوده شده ، و بعداً با انجام حملات انتحاری هوا پیماها را مجبور به تصادم به مراکز تجارت جهانی امریکا، پنتاگون و... نمودند .

اسناد وشواهد که مطبوعات و مقامات امنیتی امریکا دادند، ارسال پیامیست که یک خبرنگار زن از هواپیما با شوهر خود تماس حاصل نموده ، وگفته است که هوا پیما ربایان با کارد مسلح اند . باقی هرچه که دیده ، وشنیده شده ، شایعه ، فرضیه و گفته های ضد و نقیض است ، که تصدیق باور آنها دور از انصاف است ، و آنچه که دیدند فرو ریختن مرکز تجارت جهانی امریکا توام با پنتاگون است .

در این حادثه ۲۶۰ تن راکبین هوا پیماها کشته شده و برمبنای گزارش شبکه تلویزیونی ابوظبی قربانیان این حادثه را بیست وپنج هزار نفر تخمین نموده اند . اما این تخمین دقیق نیست ، به اساس راپورها تنها در مرکز تجارت جهانی امریکا پنجا هزار نفر مصروف کار بودند ، ومراجعین آنها را یکصد وپنجا هزار نفر در روز تخمین میکنند . لذا ممکن است آمار قربانیان به سبب گسترد گی حادثه به اسانی معلوم نگردد .

اما آنچه که در امریکا مشهود است ، زندگی فلج است، وضعیت تحت کنترول نیست ، واکنش های توام با احساسات وخشم درمیان مردم بمثابه موج با استقامت درحال صعود است . پول رایج امریکا یعنی دالر درمقابل اسعار دیگر کشور ها کاهش یافته ، وبهای یک بوشکه نفت ۳۱ دالر است .

نسبت به هر پدیده دیگری بی باوری نسبت به خدمات سازمان استخباراتی امریکا مطرح است چراوچگونه ، با وجود هزینه سرشار که درخدمت سازمان استخباراتی امریکا بود، موفق نشد، از این حادثه جلوگیری کند. عدم کارایی وعنصر نبود معلومات موثق این انگیزه را بوجود آورده که عاملین این حادثه کیهااند ؟ سفید پوستان مخالفین امریکا درحکومت فدرال، سازمان حزب الله ، عراق، استخبارات روسیه و یا ... ؟!این عمل از جانب هر سازمان و کشوریکه انجام شده باشد بدون شک به اساس تیوری پیچیده و مدرنی پیش بینی و تنظیم شده ، که سازمان استخباراتی امریکاباهمه عرض وطول وبعد خود موفق به پیشگیری آن نشده ، با وجودیکه برمبنای اخرین گزارش ها هواپیما ربایان در داخل امریکا تعلیمات هوا نوردی را آموزش دیده اند، لذا از مجموع حوادث وقضایا چنین استنباط میگردد که ، مقامات امنیتی امریکا درشناخت ابعاد و ژرفنای قضایا خالی ذهن بوده و همین نبود معلومات مکفی و موثق باعث آن گردیده است که درمورد عاملین این حادثه هم امریکا وهم دنیای سرمایه داری باشک فراوان مواجه شده و برمبنای فرضیه ها و تیوری های احتمالی درفهرست مظنونین سرویس های استخباراتی امریکا همه احزاب و تنظیم های اسلامی شامل اند .

صاحب نظران به این عقیده اند سازمانهائیکه تا هنوز به ارتکاب این اقدام متهم شده اند دارای امکانات وسیع نبوده ، وآنها با توجه به گسترده گی این حادثه هرگز توان انجام این اقدام را نداشته اند ومسئولین ومرتکبین این حادثه ممکن تحت قیمومیت ورهبری یک کشور مقتدر بوده، و درطرح ورهبری این اقدام همانطوریکه گفتیم پالیسی ازیک تیوری مغلق وپیچیده سازماندهی شده، وجز ستراتیژی کشورهای بوده است که با امریکا دشمنی وسوابق تاریخی خراب دارند .

نیولی لاری

سید نورالله «خل»

ماته دي دیار او د دلدار لاري نیـــــولي دي
ولي دي دکلي او دښار لاري نیـــــولي دي
بیا به ماشومان په کړنگونو کي سفـــر کـــوي
څکه په تورخم کي خاصه دارلاري نــیولي دي
ته چي يې خوړلي ماهغه په غشو ویشـــتي دي
ما دوحشتونو دښامار لاري نیـــــولي دي
هغه خزان بڼ ته به سپرلي هیڅـــکله ورنشـــي
څو چي څو کارغانو دبــهار لاري نیـــولي دي
تلل بلو ډیو ته یوه جذبه دقرباني غـــــواړي
چاپه پتنــگانو د انگار لاري نـــــیولي دي
«خله» ورته گوره چـــــي تروبو باندي دوکه نشي
چیرته فریـــــکار چیرته مکار لاري نیولي دي

آب وبرق زون شمال غرب . . .

حوزه هریرود:- در این حوزه دریاهای هریرود ، فراه رود ، ادرسکن و خاش شامل است و تقریباً سالانه ۲،۲ میلیارد متر مکعب آب تولید می کند و مساحت این آب ریز ۸۵۳۰۰ کیلو متر مربع می باشد دریای مرغاب پر آب بوده و آب آن به خاک ترکمنستان می ریزد در آن طرف مرز بند برق موجود است و باز برق تولید شده بالای افغانستان به فروش می رسد.

پروژه های عمده آبی زون شمال غرب عبارت اند از :

۱- بند سلما — این پروژه در سال ۱۳۵۰ امور سروی جیو انجنیری آن اغاز شد در سال ۱۳۵۳ هق سروی دقیق صورت گرفت و در سال ۱۳۵۵ کار سروی پروژه تکمیل شد.

پیشبینی پروژه : أبیاری ۷۳ هزار هکتار زمین — ۴۰ میگاوات برق ، نصب سه توربین ، ۳۸ ملیون دالر کمک عربستان سعودی ، ۱۹ ملیون دالر امریکائی از بودجه داخلی متخصصین از هند و کارساختمان آن توسط دستگاه ساختمانی هلمند مد نظر گرفته شده بود . عملاً کار آن در ثور ۱۳۵۶ توسط ۵۰۰ نفر روزانه أغاز شد البته ارتفاع بند ۱۰۴ متر عرض بند ۳۹۲ متر و ذخیره آبی اصغری ۶۵۰ و اعظمی ۷۰۵ ملیون متر مکعب براورد شده بود .پروژه در فاصله ۱۷۶ کیلو متری شهر هرات موقعیت دارد . تمام وسایل و وسایط که وارد کشور شده بود به محل پروژه انتقال داده شد و یک تعداد دیگر وسایل ضروری در دیپو های بیرون کشور تاکنون باقی مانده است .

هدف : هفت برابر ساختن حاصلات زراعتی بودکه در قدم اول ساحه زرع پنبه و لبلبو برای شرکت روغن ، نساجی و فابریکه شکر هرات مد نظر گرفته شد بود ۱۲۰۰ فارم تربیه گوسفند برای مسلخ هرات و تولید برق از جمله اقدامات دیگر پروژه بودکه با تاسف در سال ۱۳۵۸ همه هست و بودآن در اثر جنگ ها ازبین رفت . کار پروژه ۷۵٪ پیش رفته بود و حالا به ۳۰ ملیون دالر غرض بازسازی ضرورت دارد .

۲- پروژه فراه رود :- این پروژه در سال ۱۳۵۴ هـ .ش سروی گردید پیشبینی ۳۰۰ هزار جریب زمین تحت آبیاری احداث بند ذخیره ، در مرحله دوم نصب توربین های برق ، حد اعظمی ذخیره أب ۵۷۰ ملیون متر مکعب آب ، ارتفا بند ۸۰ متر ، عرض بند ۲۶۵ متر ، ۱۹ میگا وات برق ، ۴۰ کیلو متر سرک ، فابریکه قند به ظرفیت ۲۵۰ تن شکر در سال ۱۰۰۰۰ تن پخته محلوج و سائر خدمات اقتصادی و اجتماعی

۳-سائر رود خانه ها : دریای مرغاب ، بند کوگان ، بند انجیل هرات ، کاشان وگلچین بادغیس خسباس و هاروت فراه همه با کمترین استفاده وارد خاک دیگران میشود .

سرچشمه همه دریاهای زون ولایت غور است که مردم آن فعلاً از بی آبی مهاجر اند و علت آن عدم موجودیت ذخائر آبی در آن ولایت می باشد .

دشت بکوا با استفاده از آب های زیر زمینی در سال ۱۳۵۳ هش غرض کشت گندم و اکمال گدام ها وسیلو های کشور مورد سروی قرار گرفت و در سال ۱۳۵۴ هش طور امتحانی با حفر چند چاه عمیق عملاً کار خود را شروع نمود که جنگ ها وتجاوز روس ها مانع پیش برد کارآن شد.

دوم برق :

مهمترین مرکز تولید برق بند سلما در سطح زون خواهد بود که از آن تذکر به عمل آمده است .

۲- بند برق جلوارچه هرات : این کارخانه در سال ۱۳۱۲ هش بالای نهر انجیل اعمار شد و در سال ۱۳۵۱ سامان آلات المانی در آن غرض تولید برق آبی نصب شد . ظرفیت تولیدی برق آن ۸۰ کیلو و ات بود و فقط به ساحات محدودی برق میداد فعلاً غیر فعال است و به ۲۰۰ هزار دالر امریکائی غرض ترمیم ضرورت دارد .

۳- برق دیزلی هرات :دارای ۱۱ پایه جنراتور ساخت امریکا ، روسیه و چکسلواکیا است (۱۳۴۲-۱۳۵۸) سال های نصب دستگاه برق بوده ، ظرفیت تولیدی آن ۲۴۰۰ کیلو وات برق می باشد و برای تنویر شهر هرات به کاربرده میشد ، فعلاً غیر فعال است و به ۳۰۰ هزار دالر امریکائی غرض بازسازی نیاز دارد .

۴- برق دیزلی بادغیس:در آن سه پایه جنراتو روسی و چکوسلواکیا ئی از سال ۱۳۴۹-۱۳۶۳هش نصب شده بود وظرفیت تولیدی آن ۵۳۰ کیلو وات برق برای تنویر شهر قلعه نو مد نظر گرفته شده بود که فعلاً غیر فعال است وبه ۱۰۰ هزار دالر غرض بازسازی ضرورت دارد .

۵- برق دیزلی فراه :در آن شش پایه جنراتور روسی و چکوسلواکیائی از سال ۱۳۴۹-۱۳۶۰هق نصب شده بود و ظرفیت تولیدی آن یک هزار کیلو وات برق برای تنویر شهر فراه مد نظر گرفه شده بود که فعلاً غیر فعال است و به ۳۰۰ هزار دالر امریکائی غرض بازسازی نیاز دارد .

۶- برق دیزلی غور : در آن ۲ پایه جنراتور چکسلواکیائی در سال ۱۳۵۹ هـ .ش غرض تنویر شهر چغچران نصب شده بود ، ظرفیت تولیدی آن ۳۰۰ کیلو وات برق مد نظر گرفته شده بود فعلاً غیر فعال است وبه ۲۰۰ هزار دالر امریکائی غرض بازسازی آن ضرورت است .

۷- برق حرارتی سبزک : غرض استفاده از ذغال سنگ از معدن ذغال سنگ سبزک هرات متخصصین چکسلواکیایی منطقه را سروی تخنیکی ، اقتصادی نمودند و پیشبینی نمودند که فابریکه برق به ظرفیت ۵۰ میگاوات برق در آن محل اعمار شده می تواند .

۸- برق ترکمنستان: در سال ۱۳۷۲-۱۳۷۳ هـ .ش در اثر تفاهم مسئولین ولایت هرات باجانب ترکمنستان قرار شد تا از آن کشور به ولایت هرات برق وارد گردد ، بدین منظور اتاق های تجارت هرات از مردم شهر هرات پول جمع نمود و از مرکز پول زیادی به همین منظور به ولایت هرات فرستاده شد متاسفانه تا کنون برق وارد ولایت هرات نگردیده است .

۹- سیستم جنراتور های شخصی : در سطح زون فعلاً برق برای اکثر اهالی از طریق جنراتور های شخصی و کوچک تامین میشود که در شهر هرات مالکین جنراتور ها اتحادیه خویش را در چوکات شاروالی هرات تاسیس نمودند

نتیجه :

۱-احداث کامل بند سلمابه موضوع رفع مهاجرت از ناحیه خشک سالی ، خود کفائی کشور، توسعه دهات ، توسعه علفچرها ، ازدیاد محصولات ،نباتات صنعتی و غله جات و تولید برق مساعدت میکند.

۲-در تورید سامان آلات بند سلما تفـــــــــاهم رسمی بـــــــــا خارج صـــــــــورت گیرد

۳-احداث بنـــــــد های آبی بالای تمام رود خانه هـــای زون به کار ضروری ودوامـــــــدار مبدل گردد.

۴- هماهنگی کاربازسازی بین تمام ارگان ها و موسسات داخلی و خارجی به وجود آید.

۵-حق اولیت در احداث و اعمار امور پروژه ها مد نظر گرفته شود .

۶- موضوع انتقال برق ترکمنستان هرچه زودتر حل گردد.

۷- سیستم برق جنراتور های شخصی از نگاه فنی غلط است مصرف خریداری این ها با پول گزاف و دوره استهلاک کوتاه فقط در صد ور اسعار به خارج کمک می کند و بس ، خطر شارتی لین ها زیاد است مدت برق تولید شده در شبانه روز چند ساعت محدود است پول مصرف فی کیلو وات برق بسیار بلند است . صدائی جنراتور ها از طرف شب مزاحمت به مردم به خصوص به اطفال در تمام شهر می نماید . مقدار زیاد دیزیل که به اسعار از خارج وارد می گردد، مصرف میشود . دود جنراتور ها هوای شهر را الوده میسازد قیمت مجموعی تمام جنراتور های شخصی شهر هرات مساوی به قیمت بازسازی تمام جنراتور های امارتی در سطح زون میباشد . استهلاک جنراتور های شخصی مدت کوتاهی را در برمی گیرد .

۸- دشت بکوا غرض تولید گندم ضرورت تمام کشور به حفر چاه های عمیق ضرورت دارد .

بناءً ایجاب می کند تا همه سرمایه داران ملی ، موسسات داخلی و خارجی و همه مسئولین امور ، ارگان های مربوطه آب و برق را در جهت بازسازی بند های آب و فابریکات تولید برق کمک انسانی و اخلاقی نموده و مردم را از مشکلات کمبود آب و برق نجات دهند ، در این راه امارت اسلامی افغانستان تمام دست اندرکاران را مورد تشویق قرار میدهد البته مردم افغانستان هر عمل نیک را به دیده قدر می نگرند .

وکیل احمد

چې کشور دافغانانو معطر کا
دهربیت مصرع می زلفې دخوبان کړي

دشعر او ادب ټنې

د افغان بچي

«غزل»

توبې شوې ډیرې وینې دې کوڅه کې
څکه ځیرې ترې رڼا په نیمه شپه کې
لکه ستوري د اسمان چې سپین ځلیږي
داسې بلې وي ډیوې په هدیره کې
تاریخونه د وطن وربانديٍ ویاړي
چې شهید شي د دښمن مقابله کې
دغلیم ادکې ډیرې بوري شوي
دبچو هڅونه يې شته هره دره کې
تل کړیږي به اغیار له هغه ټپه
چې وهلي د افغان بچي سینه کې

◆◆◆

غم آباد

حمید

جور وجفا به این دل غم آشنا فرست
مهرو وفابه مردم بی مدعا فرست
ازماسخن به قاصد صاحب غرض مگو
دردست باد صبح ونسیم صبا فرست
در دام غم اسیرم وبا درد آشنا
این رهرو بکوی وفا را رها فرست
با کاروان محنت و اندوهم همسفر
یک پرتوی زما رخت رهنما فرست
غم آشنای یاد توام درشب فراق
شادم نمابوصل ونوید وفا فرست
گیرم اگر سراغ، غم آباد میکنی
قاصد زراه مهر به سرای وفا فرست
بی سوز وساز نیست قبول دعای حمید
با خیل اشک وقافله آه، التجا فرست

اوبه کړي زړه

عزت الله عارف

چې په خیال کې کړم پوښتنه دیارانو
هغه دم مې اوښکې راشي پرچشمانو
رڼا ورځ پوما تیاره او توره شپه شي
چې مې یاروي لاس نیولي رقیبانو
لکه شمعه چې اوبه اوبه راتوي شي
زړه مې داسې اوبه کړي اشنایانو
چې په ذهن دې راجوړ کړم رانه وران شي
ولې ذهن مې کړود کړ ظالمانو
د بورا به پوزه بوي دڅه وانه خلسي
چې يې واخلي یووار بوي دسروګلانو

رباعی

علامه اقبال لاهوری

ساحل افتاده گفت گرچه بسی زیستم
هیچ نه معلوم شد آه که من کیستم
موج خروشنده پیش خرامید وگفت
اگر میروم هستم،گر نروم نیست

دکوه نور د الماس لاس په لاس کیدل

د دنیا ترټولو مشهور الماس دي چي وزن بي له تراش څخه مخکي ۷۹۳۰۳,۸ قیراطه و او له مکررو تراشونو څه وروسته بي وزن۱۰٦۰۱,٦ قیراطه ته رسیدلي .

دغه الماس پنځه زره کاله مخکي دهندوستان له یوه مشهور تاریخي پهلوان سره و له هغه وروسته (سل کاله له میلادنه مخکي) د راجپوتانه شاه ته ورسید په دې سلیزه کي دغه الماس دهند«مالواي» شاهانو سره و چي بیا علاوالدین غلجي هغه دهلي ته انتقال کړ .

په ۹٦۲ هـ کي همایون دبابرشاه زوي دهلي ونیو او دغه الماس ورته ورسید او دمحمدشاه ترعهده پوري دغه الماس دبابر په کورني کي پاتي شو .

کله چي نادرافشار دهلي فتح کړ دغه الماس بي په غنیمت ونیو خو کله چي نادرشاه ووژل شو احمدشاه ابدالي ته ورسید او له احمدشاه نه تیمورشاه او زمان شاه ته میراث پاتي شو .

په «۱۲۱۵» هـ کي کله چي زمان شاه دخپل ورور محمود په واسطه ړوند شو الماس محمودشاه او له هغه نه شاه شجاع ته ورسید هغه وخت چي شاه شجاع لاهورته لاړ رنجیت سنگ الماس تري واخیست او دغه قیمتي دانه دهغه په کورني کي تر«۱۲٦۳» پوري پاتي شوه .وروسته هغو انګلیسانو ته چي هند یي غصب کړ ورسید او په اخر کي دهند پادشاه لارد دلهوزي دغه الماس د «۱۲٦٦»هـ د رجب په ۲۲ د ویکتوریا ملکي ته سوغات ورکړاو تر اوسه پوري د انګلیس په شاهي تاج کي ځلیږي .

هندیان وایي: دغه الماس خپلو ټولو شرقي مالکانو ته شوم و څکه چي اکثر مالکان بي ووژل شول . خو سل کاله کیږي چي دغه الماس دبرتانیي په شاهي کورني کي لاس په لاس کیږي خو داسي نه ښکاري چي هغو ته شوم وي .

نیش عسل

ع.ش

رهنمای معاملات- ریفری عادل کیسه های پول بایع ومشتریان
تاجر سراچه- قاتل دریور وعابرین
غرفه ترافیک –محل ترصد موتروان
نوت پنجصد افغانیگی –آشنای وفادار مامورین
سره میاشت –محل دستگیری خویشاوندان
لابراتوار طبی –محل نجات آمیب ... مریضان
فروشگاه یا دوکان – کمینگاه برای مشتریان
شیشه فروشی- محل تکثیرماین برای تایر بایسکل وموتران
بند نغلو- مژده پرچاوی برق به همشهریان

ولیکه !

اجمل عمر ستانکزي

قلمه تل نوم د اشنا ولیکه
د زړه په وینو راته دا ولیکه
پام چي نامه د رقیب ونه لیکې
ها بي وفا سره وفا ولیکه
بس کړه دظلم اوظلمت افساني
دتقدیر پاڼه کي رڼا ولیکه
تل وتل شوي دي اجمل په مینه
قلمه نن ورته دعا ولیکه

اسماني کیږدي

صالح محمد«صالح»

تندي مي پر شوندو عذابي کیږدي،وهلي ده
ړوند څنګه هرګام کي سرابي کیږدي،وهلي ده
اوف اچي له ښکلويي دتاك رك كي زلزلي ناځي
مار مي په وجود کي شرابي کیږدي،وهلي ده
ورانګي دي مراندي، واره ستوري دي همزولي دي
نن دي زموږ له واکه اسماني کیږدي،وهلي ده

په لوړه څوکه

محمدرفیق«عزت»

لامو دبوټو کوټي نه وي کړي
لامو غنم و په ډاګو کي خواره
له سرو انګورو مو مرغي شړلي
دختکو پالیز خو مه ښوروه
دسرومیوځانګي په مخکه پرتي
خوزموږ له کلي
دا ناري شوي پورته
دکلي خواته مو نن غله راغلي
سترګي يي شني مخونه سره راغلي
دبیزوګانو سکه ورونه و دوي

* * *

لاتي په لاس تسپي په غاړه راغلي
زموږ ملنګ بابا به نه پیژني ؟
چي هدیره به يي خپل کور ګڼله
خړ خړ لوګړي له لرونو سره
دبوټینو خړي کهي په اوږو
او شاه زلمو توري له تیکي ښکلي
دتورو شرپ
دلرګو خرپ شو پیل
پیغلو سري اوبه منګو کي راوړي
خداي مه کړه نه چي ورونه ماتي وخوري

* * *

موږ هم دغلو حساب و دوو ته راوست
یو خو ملنګ بابا په خپله لاټي
له ډیرو مندو تښتیدو نه خلاص کړ
دوهم د دوو پښو په پور له مریو
زموږ له سترګو ورك شو
موږه دخپل کلي په لوړه څوکه
د آزادي بیرغ رپانده جګ کړ

اعلانات

نعمت الله فرزند عطامحمد وکالتاً یک دربند حویلی ملکیت حیات الله فرزند عطامحمد واقع ناحیه پانزدهم را بالای پروین بنت فضل احمد بفروش میرساند.

اشخاص وموسساتیکه در مورد حویلی مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند درغیرآن حق شکایت را نخواهند داشت .

\###

اسناد قباله شرعی یک دربندحویلی واقع کارته نو به اسمی محمد ابراهیم فرزند عبدالرحیم و اسناد یکعراده موتر تیوتای چهار دروازه بی مربوط موسسه اسرا مفقود گردیده یابنده بدفتر اسرا واقع سرک پانزده وزیر اکبرخان ویا به تیلفون نمبر ۶۲۷۵۶ ویا ۲۴۴۶۰ تماس گرفته شیرینی اخذ نمایند .

\###

سردار فرزند شیرعلم یک دربند حویلی ملکیت خویش واقع ناحیه پنجم را بالای غلام نبی فرزند عبدالله بفروش میرساند.

اشخاص وموسساتیکه درمورد حویلی مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهرکابل اطلاع دهند درغیرآن حق شکایت را نخواهند داشت .

\###

داودجان فرزند سردارخان وکالتاً یک دربند حویلی ملکیت بختر گل فرزند سردارخان واقع ناحیه هشتم را بالای مهمند فرزندحاجی عبدالرحمن بفروش میرساند.

اشخاص وموسساتیکه در مورد حویلی مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تاده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند درغیر آن حق شکایت را نخواهند داشت .

\###

ستره محکمه امارت اسلامی افغانستان به سی ویک قلم قرطاسیه غیر مطبوع بابت سال ۱۴۲۲ ضرورت دارد.

اشخاص وموسساتیکه خواهش قرارداد آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا به آمریت خدمات ستره محکمه بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۷-۶-۱۴۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

\###

به اطلاع محمد محسن فرزند سیدعسکر ساکن غوربند میرساند تاغرض حل وفصل دعوی خوشحال فرزند خیرمحمد از تاریخ ۲۸-۶-۱۴۲۲ تا دو ماه بریاست دیوان تجارتی محکمه مرافعه ولایت کابل حاضر شود درغیرآن فیصله غیابی درحصه صادر و آنگاه حق شکایت را نخواهد داشت .

\###

ریاست تدویرو مراقبت مکروریانها یک باب خبازی جوار بلاک ۳۳ مکروریان اول، تعمیر کودکستان مکروریان اول و دوباب گاراژ های مقابل ملی بس را به کرایه میدهد .

اشخاص وموسساتیکه خواهش کرایه گرفتن آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت اسناد و ارتباط تدویرو مراقبت مکروریانها واقع بلاک ۲۳ مکروریان ۱-۲ بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۸-۶-۱۴۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

\###

ریاست تدویرومراقبت مکروریانها به تعداد چهار باب گاراژ مقابل بلاک ۱۱-۱۲ مکروریان اول را به کرایه میدهد.

اشخاص وموسساتیکه خواهش کرایه گرفتن آنرا طور قرار داد داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت اسناد و ارتباط تدویرو مراقبت مکروریانها واقع بلاک ۲۳ مکروریان ۱-۲ بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۸-۶-۱۴۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

\###

وزارت معادن وصنایع برای تصدی ذغال سنگ شمال به بیست و پنج قلم سامان آلات معدنی ضرورت دارد.

اشخاص وموسسات داخلی وخارجی که خواهش رسانیدن آنرا به شرایط (CIF) رسانده تصدی ذغال سنگ شمال داشته باشند درخواست های خویشرا بریاست تدارکات از منابع خارجی وزارت معادن وصنایع بسپارندخودویا وکیل قانونی شان از تاریخ ۲۵-۶-۱۴۲۲ تا یک ماه مراجعه نمایندمشخصات و شرطنامه راملاحظه کرده میتوانندتأمینات اخذ میگردد.

په هیواد کې بهرنیانو...

افغانستان سره ا ویا په افغانستان کی دمیشت کوم چاسره دهغه داحتمال رابرسیره کول نه یوازی منطقی نه بریښی بلکی دافغان مظلوم ولس سره یو لوی زیاتی دی .

داسې ښکاری چی دهمدی هسی خوشی او پوچو پروپا گندو په ملتیاسپینه مانی بهانی لټوی چی یوځل بیا دپخوا په څیر په دی وهم سره په افغانستان باندی یرغل ته ځان چمتوکړی.

له همدی امله هغو بهرنیو څخه چی دلته په افغانستان کی استوگنه لری غوښتنه کیږی ترڅو دپورته بالقوه گواښونو له کبله داحتیاط له مخی هیواد څخه په موقت ډول ووزی.
وواېي دابـه فوق العاده خطر وي .

همداراز که هرگاوندی هیواد زموږ دخاوری پرخلاف خپل مځکنی یاهوایی قلمرو امریکایانو ته په واک کی ورکړی نوموږ به په یوه تحمیلی جگړی کی له ځانه سره ښکیل کړی نامکنه نه ده چی دلاره ورکوونکی ملک په خلاف به دمجبوریت له مخی هجوم ور وړواو مجبور أبه مجاهدین دهغوی خاوری ته ننوځی او دناوړو عواقبواو دسیمی دبی ثباته کیدلو مسولیت به هم دهغوی په غاړه وي .

ددیجیټل تیلفون...

د مخابراتو وزیر محترم مولوی یارمحمد رحیمی دباختر د اطلاعاتی اژانس خبریال سره د مرکی په ترڅ کی وویل د هغه تړون له مخی چی دمخابراتو وزارت او دپویانوین گلفام په نامه د یوه بهرنی شرکت ترمنځ لاسلیک شوی ؤ دغه شرکت په دوو پړاوونو کې یو سلو دوه دیرش زره متره کیبل او څلور سوه یوویشت زره متره سیم د مخابراتو وزارت ته سپارلی دی .

دغه سیم او کیبل چې ټوله بیه یې ۷۵۰ زرو ډالرو ته رسیږی د ډیجیټل ټیلفون د شبکی د ترمیمولو او پراختیا او هغه نیمه اتومات ټیلفونونو دبیا جوړولو په خاطر چي دکابل په ښار کې د کیبلی عوارضو له امله غیر فعال شویدی پیرودل شویدی محترم رحیمی زیاته کړه د ډیجیټل ټیلفون هغه مشترکین چې ټیلفون په واک کی لری کـولی شی د ټاکلی ضمانت په ورکولو سره په مستقیمه توگه له بهر سره تماس ونیسی .

دغه راز د کندهار په ولایت کی د ډیجیټل ټیلفون د پنځه زره لینه دستگاه د درولو کار په سلو کی اتیا پرمخ تللی دی او په نږدی راتلونکی کی به فعاله او د استفادی وړ وگرځی .

دوروستنۍ پریکړی...

راوړی څو غیور ملت دهغوی د شرعی فتوا په رڼا کې د خپل اسلام او وطن څخه دفاع وکړی په دی اړه به د ولایتونو له خوا وخت وړته تعینیږی والیان مکلف دی د علما . کرامو د راتلو او رارسولو چاری تنظیم کړی .

داسلام خادم

امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد

دامریکا داحتمالي...

مسقاماتو څرگندونی اواشارات داسامه بن لادین برنوم تمرکزکوی پداسی حال کی چی دافغانستان اسلامی امارت دامریکی داستخباراتو دځان خلاصولو دغه بی اساسه تورونه ځکه دمنلو وړنه بولی چی دغه حملی دامریکا په دننه کی ترسره شویدی او اسامه بن لادین په هیڅ ډول دومره امکانات او وسایل په واک کی نلری چی پیلوټان وربانـدی وروزی او بیا دا ډول حملی ترسره کړی او نه داسی ستره پروسه له شرقه څخه په غرب کی په کاراچولی نشی داچی څینی امریکائی مقامات په افغانستان باندی دحملوگواښ کوی سره له دی چی نه یوازی موږ ته بلکی دنړی ډیرو هیوادونو ته په ډاگه ده چی داسی ظالمانه احتمالی اقدام به دیوه آزاد هیواد پراستقلال تیری وی نوکه گاونډی یاد سیمی نور هیوادونه په تیره بیااسلامی هیوادونه دامریکا دنظامی اردو غوښتنو ته مثبت ځواب

امریکا فرو...

بعد چه خواهد شد؟

محترم احمد فاخر یکتن از استادان پوهنتون کابل که یگانه عامل این حادثه را سیاست های غیر انسانی امریکا طی دراز مدت در برابر مسلمانان جهان تلقی نموده میگوید : امریکا هیچگونه جرئت و استطاعت حمله بالای افغانستان را ندارد . قصر سفید صرفاً به منظور اشباع وفریب مردم امریکا این التیماتوم را بکار برده است ؛ اینکه دیگران به امریکا وعده هر نوع حمایت وکمك داده اند هدف آنان جز دخیل ساختن پای امریکا در مداخله مستقیم به افغانستان و دست خود را از قضیه بیرون کشیدن چیزی بیش نیست .

به نمایندگی از استادان پوهنځی اقتصاد پوهنتون کابل محترم شهیدی میگوید : تصمیم ناتو نباید اینقدر عجولانه صورت بگیرد ، در صورت عملی شدن این حملات اینقدر گفته میتوانم که طی کوتاه مدت اقتصاد نظامی ناتو به مراتب در مقایسه با فرو پاشی اقتصاد نظامی وارسا در افغانستان از هم پاشیده خواهد شد و آنگاه اقتصاد کشور چین وسیعاً در منطقه تبارز خواهد نمود .

چانس حملات زمینی (پیاده) امریکا به افغانستان خیلی محدود است ؛ مگر درصورتیکه پاکستان مجوز این حملات را از خاك خود ندهد .

محترم عبدالحمید یکتن از هموطنان مهاجر ما که تازه از پاکستان به کابل برگشته است ضمن تایید این مطلب موضعگیری کشور های همسایه افغانستان را درقبال این التیماتوم اینگونه خواند : حالا شاید ناتو به این اندیشه باشد که دولت پاکستان درقبال این هشدار بین منافع طالبان و امریکا منافع قصر سفید را ترجیح خواهد داد در حالیکه این فرضیه چنین نیست . وی افزود : آن دشمنی را که تاحال روس ها خود ویابواسطه مخالفین ما در مقابل طالبان جستجو مینمودند حالا این میدان نبرد را برای پیمان ناتو واگذار شده اند ؛ چرا که دشمن دشمن برای هرکسی بهترین دوست است .

گفتنی است که ایران به هیچ وجه حاضر نیست تا قلمرو خویش را در اختیار حملات نظامی برای امریکا قرار بدهد ؛ از اینرو بعید به نظر نمیرسد که در صورت عملی شدن این برنامه میادین هوائی ترکمنستان و پاکستان در اختیار امریکا قرار بگیرد .

بادرنظر داشت موضوع و ارائه ارقام و فاکت ها از جانب مطبوعات بین المللی درین زمینه این نکته قابل ملاحظه است که باید درقبال قربانی ۱۹ تن از این اعراب منطقی وجود داشته باشد تا بواسطه آن این عمل را توجیه واقعی نموده وانگیزه اساسی این قضیه را درك نماید ، شاید درك و انگیزه این منطق موجب آن گردد که سیاست امریکا درقبال مسلمانان جهان بویژه اعراب انعطاف پذیر ترشده وهم جوابی باشد بخاطر طرفداری سیاست یکجانبه امریکا از اسرائیل .

مهربان

دنیویارک او...

نیویارک او واشنگټن کی دتیری سه شنبی د ورځی په خونړیو پیښو کی د لاس لرلو تور ولگاوه .

ده د ایټالیا دتلویزیون له لاری د وینا په ترڅ کی څرگنده کړه دا یوه اسانه معدله ده څه ډول امکان لری چی امریکائیان د دغه ناتار په مخنیوی بریالی شوی نه دی .

یوه امریکائی سیاست پوه او اقتصاد پوه هم د امریکا حکومتی سازمانونه په دغه هیواد کی د وروستیو پیښو اصلی عاملین بللی دی .

د یوبل خبر له مخی د لبنان یوه سیاسی شخصیت او دیوه تنظیم مشر ولید جمبلات ویلی دی په واشنگټن او امریکا کې د وروستیو پیښو په اړوند باید د اسرائیلو د جاسوسی د اداری موساد او د سی آی ای په لټه کی شو .

ده وویل حیرانوونکی ده هغه هیواد چې په ۲۰۰۱ میلادی کال کې پوځی بودجه یې دری سوه پنځوسو ملیاردو ډالرو ته ورسیږی څه ډول به دی بریالی نشی چې دځان پرخلاف د سازمان موندل شوی تروطنی مخه ونه نیسی .

دبست تصدی...

او دهیلمند ولایت دنورو امارتی ارگانونو داستازو په گډون پرون وشوه دپومبی دراټولولو دمتی دکمپاین دڅرنگوالی او دهغی دبیی دټاکنی په باب غوراو څیړنه وشوه او دکندهار په وزن دیومن پومبی بیه دوه اتیازره افغانی تثبیت او وټاکل شوه .دغه راز په دی غونډه کی وپتیل شوه چی دپومبی دراټولولو کمپاین دی درجب المرجب دمیاشتی په وروستیو ورځوکی پیل شی.

دکمپاین په بهیرکی دیوتن پومبی دتحویلولو په بدل کی پنځلس کیلو گرامه غوړ او پنځرس کیلوگرامه کنجاره دټاکلی بیی په ورکولو سره په کروندگروباندی وپشل کیږی.

دغه راز له هغو کروند گرو سره چی دکمپاین دپیل په لومړیو ورځوکی پومبه دبست تصدی ته تحویل کړی په وړیا ډول دلسو کیلوگرامه غوړیو مرسته کیږی .

په ارفریقا کې...

دنورو شپږو میاشتو له پاره اوږده کړه.

ددغه پریکړه لیک له مخی دملگرو ملتو شپږ خولی پوځونه دنورو شپږو میاشتو لپاره دایتوپیا او اریتریا ترمنځ داوربند څارنه وکړی.

دملگرو ملتودغو عسکرو شمیر څلورزره تنو ته رسیږی .

دآلمان دلفت...

اعلام کړیدی چی دبرتش ایرویز په نامه دانگلستان دهوایی کرښی دالوتکی الوتنی دامریکا متحده ایالاتو ته پرون له سره پیل شوی.

دبرتش ایرویز الوتکی به په لومړی پراوز هغه انگلیسی اتباع لندن ته ولیږدوی چی دواشنگټن او نیویارک دچادونو له پیښو وروسته دامریکا په ښارونوکی لالهانده دی .

دزره دعملیات...

یو یرخه دددهډکودماغزو له سلولونو څخه په گټې اوخستې سره ترمیم کړي.

دجراحي په دغو عملیاتو کی دهډوکو په ماغزو کی موجود و دسلولونه دزړه په عضلاتو بدل شول.

دروسیې او جاپان...

پوځی منبع ددغو تمرینونو ترسره کول د دوارو هیوادونو ترمنځ دپوځی همکاری دپراختیا نتیجه اوعامل بللی دی .

دنوي...

هغه ستوری کی چی اوبه وی هرومرو هلته ژوند هم شته .

امنیتی تدابیر په نورو هیوادونوکی

بوینس ایرس باختر:

دارجنټاین برازیل او پاراگوای هیوادونو اعلام کړیدی چی دامریکا په متحده ایالاتو باندی دورستیو هوایی بریدونو په تعقیب یی په خپلو گډو پولو کی امنیتی تدبیرونه زیاته کړیدی.

ددغو هیوادونو مسئول مقامات وایی چی دوی د پاراگوای د گیدابلتی ښارچی له دغو دریو هیوادونوسره گډه پوله لری تر کلکی څارنې لاندی نیولی دی .

ارجنټاین هم وخوا ددغه ښار په باب اندیښنه څرگنده کړیده

موږ به هیڅکله له اسلامي اساساتو تیر نه شو

دشریعت تبصره

دنیویارک او واشنگټن وروستی پیښی داسی څه گرځیدلی چې د دنیا په ډیرو برخو کی له بل هرکاره لاس اوفکر اخیستل شوی او هرڅوک دغی حیرانتیا وړی دی چې څنگه د یوداسی چا په وړاندی د دغسی پیښو نه اټکل غلط ثابت شو . هغه چې دی ته د ورته کښتنیو لازمو چارو په بشپړیدو سره یی نورو هیوادو ته ډول ډول غځونی کړی وې .

اوس چې امریکا د دغو انتحاری بریدونو په غبرگون کی کوم گواښونه د افغانستان خاورې او د افغانستان اوسیدونکو ته کوی په مقابل کی یی د ټولی نړی پوهانو د نظر او فکر خاوندانو وړاندیز داسی دی چې د دغو منظمو او دحکومتونو په سویه ترتیب شویو تروریستی حملو داصلی عاملینو په پیدا کولو کی له ډیردقت ، غور او هر اړخیزی څیړنی نه کار واخلی او هسی نه چې د یوه بی وسه هیوادا او یوه شخص په مدعی کولو سره د پیښی اصلی عاملین ورک کړی . هغه چې د دغه کار د بیا ترسره کیدو احتمال به یی ډیر قوی وی . او ولی داسی فکر وشی چې امریکا دی هیڅ دښمن ونه لری .

ایا امریکا د خپلو دفاع ضد راکټی پروگرامونو د پلی کیدو په ډیر ټینگار سره ځان ته دښمنان پیدا نه کړل ؟ په منځنی ختیځ کې د یوطرفه سیاست په خپلولو او دیوه لوری (اسرائیلو) نه په ملاتړ یی دغه ډول نتیجی نه شی انگیرل کیدای ؟ له ایران ، عراق ، لیبیا ، کوریا او بالاخره د نړی له بل هیڅ یو هیواد سره کومه اساسی ستونزه نه لری ؟

د دی هرڅه سره سره بیا هم امریکایی مشرانو هغه څه څرگند کړی چې غواړی زموږ هیواد بی موجبه په دغسی څه کې ور لتاړ کړی او ښکاری نیت لری چې زموږ په دغې غیرتی خاوره نظامی یرغل وکړی او هغه مظلوم ولس چې د وخت د شوروی امپراطوری په له منځه وړلو سره یی دغی امریکا ته اوسنی یکه تازی ور په برخه کړی بیا وځوروی .

خو مجاهد ولس لکه څرنگه چې د لسمی پیړی په وروستیو کی د ابرهه لښکرو په الهی هلاکت او تباهی عقیده لری دغه رنگ به خپل معنویات نه بایلی او اوس هم په هماغه خدای تکیه او بروسه لری چې په شلمه پیړی کی یی د یوه نه ماتیدونکی ؟! قوت په وړاندی و درید او آن د هغه تر ختمیدو د استقامت توفیق ورکړ .

موږ به هیڅکله له اسلامی اساساتو او اصولو تیر نه شو زموږ هیواد په اسلام کنډواله شوی او دهمدغو پاکو ارمانونو او اسلامی اهدافو د تحقق په خاطر مو په ملیونو مسلمانان شهیدان شوی .

که په افغانستان یرغل د هغو سیمه ییزو گاونډیو هیوادونو له لاری ترسره شی او حکومتونه یی امریکائیانو ته اډی ورکړی نو له یوی خوا به یی دخپل ملت په تندی د امریکا دغلامی تور داغ ایښی وی او له بلی خوا به مجاهد افغانان چې په راتلونکی کې له د یرغل کوونکو سره توپیر ونه کړی او په دی ترتیب سره به د گاونډیتوب نیکی هیلی له خاورو سره خاوری شی .

SHARIAT DAILY
Published by:
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:Mawlwi. Assadullah.Haidari
Editor :M.Abrahim.Nabil
Composed by:Ahmad Jawed .Faqeer.

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهدداد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتی بگذارید